## آتوپسي (د جسد معاینه)

د یو جسد عدلي طبي معاینه چې د مرګ د علت معلومولو په منظور ترسره کیږي.
دری:[آتوپسی(معاینه جسد)

## آجام

په خپلسر زرغونه شویو ونو ځخه عبارت دی چې د مباح حکم لري او د ټولو خلکو لپاره د حیازت وړ وي مشروط پدې چې د یو شخص په ملکیت کې نه وی شنی شوي. دری:[آجام]

## آجر

هغه شخص چې کوم مال په اجاره ورکوي.
دری: [آجر]

## آجله عقدونه

د بهرنیو اسعارو هغه اخیستل او خرڅول دي چې نرخ یې په راتلونکي کې اټکل کیږي. دری: [عقود آجله]

## آرشیف

هغه ځای دی چې هلته رسمي پاڼې او سندونه په منظمه توګه ساتل کیږي. دری: [آرشیف]

## آزاد بازار

هغه بازار چې په هغه کې معاملات د دواړو خواوو په رضایت ترسره کیږي، دې ډول بازار ته (عادي بازار) هم وایي. دری: [بازار آزاد]

## آزاد تفسیر

هغه ډول تفسیر دی چې قاضي په قانوني الفاظو، کلماتو او عباراتو مقید او محدود نه وي بلکې د آزادو تتبعاتو پر بنسټ موضوع د متهم په ګټې تفسیروي.
دری:[تفسیر آزاد]

## آزاد دلال

هغه شخص ته ویل کیږي چې د نوي پور د یو لړ اسنادو د خرڅولو ژمنه کوي. دری: [دلال آزاد]

## آزادې پیسې

هغه پیسې دي چې په نورو اسعارو باندې یې د تسعیر په وړاندې قیود او خنډونه شتوالی ونلري. دری: [پول آزاد]

## آزادی اوبه

هغه اوبه دي چې پکښې ټول هېوادونه پرته له محصول حق لري. دری: [آب های آزاد]

## آسماني قوانین

د هغو اوامرو او نواهي مجموعه ده چې د لوی خدای (ج) له خوا د پیغمبرانو په واسطه د بشریت د لارښوونې لپاره نازلیږي او پیغمبرانو خلک د هغې اطاعت ته دعوت کړي وي. دری:[قوانین آسمانی]

## آسیب

هغه تاوان دی چې په قصدي توګه او یا د اهمال له مخې او یا د یو طبیعي یا غیر طبیعي عامل له کبله پر انسان، حیوان او یا هر یو بل شي باندې وارد شي. دری: [آسیب]

## آسماني آفتونه

د غیر مترقبه طبیعي مصیبت راوړونکي پېښې دي.
دری: [آفات سماوی]

## آمره قوانین

هغه قوانین دي چې فردي اراده له هغو سره د مخالفت حق نلري. دری:[قوانین آمره]

## آني (سملاسي) خطر

هغه خطر دی چې د یوه سملاسي عمل په پایله کې رامنځته شي او شخص د خپل ځان دفاع ته مجبور وي.
دری:[خطر آنی]

## آنی «فوری» جرمونه

له هغو جرمونو څخه عبارت دی چې د هغو مادي عنصر په یوه لنډه موده کې تحقق مومي. دری:[جرایم آنی]

## آویز

په سوداګریزو او بانکي معاملاتو کې مقصد له دې کلمې څخه هغه معلومات دي چې په هغه کې د اموالو د استولو یا کومې بلې موضوع په هکله مقابل لوري ته ورکول کیږي. دری: [آویز]

## آیسه

هغه ښځه چې په طبیعي توګه د ښځینه میاشتني عادت (حیض) د تېرولو په حالت اخته نه وي. دری: [آیسه]